# د افغانستان بانک

## د پولیسیاست لوی آمریت

## د پولي پړسوب میاشتینی راپور

## په هېوادکې د قیمتونو کچې تغییراتو ته بشپړه کتنه

کب ۱۳۹۹

## لړلیک


پیژندنه ........................................................................................................................... أ

مصرفي توکو د قیمتونو شاخص .......................................................................................... أ

په هېواد کې د پېسود پړسوب کچې ته لنډه کتنه: .................................................................... ب

مهم ټکي ............................................................................................................................ ۱

د پیسو ټولیز پړسوب دکلنۍ محاسبې پر بنسټ کب میاشت کې بدلون ښکاره کوي. ............................. ۲

**(۱) دخوراکي توکو شاخص دکلني بدلون پر بنسټ د ټیټ قیمتونو ښکارندوی دی.** .................................. ۳

**( ۲) غېرې خوراکي توکي کلني پړسوب دکب په میاشت کې زیاتوالی کړی دی** ................................ ۱۰

دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون) ................................................................................. ۱٦

## پیژندنه

د افغانستان بانک د قانون لومړي بند او دویمې مادې پر بنسټ، د افغانستان بانک بنسټیزه موخه په هېواد کې ،د قیمتونو ثبات ساتل دي ،چې له مخې د پېسوسو پړسوب کچه باید داسې ډول وساتل شي تر څو د خلکو اقتصادي پریکړې اغیزمنې نه کړي.
د افغانستان بانک ،د پېسوسیاستونو لوی آمریت ،په هېواد کې د پېسوسیاستونو د پلي کېدونکي ارګان په توګه ،د سمو او مناسبو پالیسو د جوړونې او اجراکونې دندې په غاړه لري. دا پالیسۍ باید د هیواد د اقتصادي ودې او د مالي ثبات په برخه کې مرسته وکړي .

په یو ټاکلي وخت کې ،د قیمتونو ټولیزې کچې لوړوالي ته د پیسو پړسوب وایي . د یادونې وړ ده د یو یا څو توکو د قیمتونو لوړوالي ته د پیسو پړسوب نه ویلکیږي .
د افغانستان بانک د پېسو سیاستونو لوی آمریت په هیواد کې د پېسود پړسوب کچې، د معلومولو لپاره د مصرفي توکو له شاخص څخه ګټه پورته کوي .د قیمتونو شاخص په یوه ټاکلې دوره کې د توکو اوچوپړتیاوو د قیمتونو د بدلون د اندازه کولو معیار ته ویل کیږي . چې دا معیار د بیلابیلو لارو څخه په ګټې اخیستنې سره محاسبه کیږي څکه هره لارهد شاخص په ځانګړو برخو کې بدلونونه څرګندوي.
د پېسو سیاستونو لوی آمریت په هېواد کې د قیمتونو کچه وخت ناوخت تر څیړنې لاندې نیسي تر څو د قیمتونو ناغوښتونکې حالت د هیواد په اقتصادي حالت ناوړه اغیز رامینځته نه کړي او د یادونې وړ ده چې د قیمتونو په کچه  کې تېز تغیرات د هېواد په اقتصادي ودې ناوړه اغیزه لري نو له دې کبله د پېسو سیاستونو لوی آمریت دا ژمنه کوي په هېواد کې به سمې او مناسبې پېسوپالیسی جوړیاو پلې کړي . د افغانستان بانک د پېسو سیاستونو لوی آمریت دا هڅه کوي چې په هیواد د پیسو د پړسوب کچه د یو عدد په کچه وساتي ،چې په دې ډول د هېواد اقتصادي ودې ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

## مصرفي توکو د قیمتونو شاخص

د مصرفي توکو د قیمتونو شاخص په هېوادکې د کورنۍ لګښتونو د اندازه کولو تر ټول مهم او ټولیز معیار ګڼل کیږي دا په داسې حال کې ده چې په نړۍ کې د قیمتونو د بدلون د اندازه کولو لپاره له نورو معیارونو څخه ګټه پورته کیږي خو د مصرفي توکو د قیمتونو شاخص یو بشپړ او مهم شاخص دی او د قیمتونو د کچې د اندازه کولو لپاره د یو مهم شاخص په توګه منل شوی دی .
د احصایې او معلوماتو ملي اداره ،چې په هېواد کې د مصرفي توکو د قیمتونو د شاخص د ترتیب دنده په غاړه لري په دې وروستیو وختونو کې یو شمیر مهم بدلونونه رامینځته کړي دي  .چې د دې بدلونونو له مخې د سروې ګانو سیمه له لسو ولایتونو څخه تر شلو ولایتونو پورې پراختیا موندلی ده  او همدا رنګه  د ونډو په برخه کې هم یو څه بدلون رامینځته  شوی دی . د دې تر څنګ په دې څیړنه کې بنسټ کال یا اساس کال هم بدلون موندلی دی چې د زیږدیز کال۲۰۱۱ د مارچ میاشتې څخه ۲۰۱۵ د اپریل میا شت ته بدل شوی دی . چې دا بدلونونه د پوښښ سیمه ډیروي اود یو ټولیز او ښه انځور څرګندونه کوي .په تیریو وختونو کې د خوراکي توکو ونډه په ټولیز شاخص کې ۵۲ سلنه وه خو اوسمهال بیا ۴۸ سلنې ته راټیټه شوې او د غیرې مصرفي توکو ونډه په تیر وخت کې ۴۸ سلنه وه چې اوسمهال ۵۲ سلنې ته لوړه شوې ده .چې دا بدلونونه د کورنیو مصرفي توکو په سیستم کې د پام وړ بدلون څرګندوي .دا معلوموي چې د غیرې خوارکي توکو ارزښت تر خوراکي توکو لوړ  دی .
د هر توکي ونډه ،د هماغه توکي ونډه د مصرفي توکو په کڅوړه کې څرګندوي چې د ترلاسه کولو لپاره یې مصرفول انعکاسوي . د یو توکي ونډې ډیربښت په هماغه کڅوړه کې د نورو سره پرتله کوي په نوي شاخص کې د غوښې ،غوړیو،وچه او تازه میوو،مصاله جاتو ،د کور سامانونه،درملنه ،اړیکې،اطلاعات اوفرهنګ،هوټلونو برخه زیاته شوې ده دا په داسې حال کې چې د غلو او دانو ،شیدی،پنیر د چر ګانو هګی،سابه،خواږه،تنباکو ،جونګړه،ښوونه او روزنه ،ټرانسپورت اود متفرقه برخه کم شوی ده .

### په هېواد کې د پېسود پړسوب کچې ته لنډه کتنه:

کله چې مونږ د پېسو پړسوب اوږد مهاله بدلون په نظر کې ونیسوو، د پیسو پړسوب اړوند زماني توقعات ښاییمثبت او د افغانستان بانک له خوا د کابو کولو وړ وي او دا په هغه صورت کې شوني ده چې پالیسي او پلانونه په داسې ډول طرحه شي چې د عرضې او تقاضاترمنځ خلا او همدارنګه د کورنیو بازارونو تکیه په وارداتي توکو راکمولو لپاره ګټوري وي. اوسمهال افغانستان کې ګڼ شمیر عوامل وجود لري چې د پېسوپړسوب لپاره موثر او د پېسو پړسوب په بدلون کې مهم رول لوبوي. له هغو عواملو څخه یو تر ټولو مهم عامل چې د افغانستان د پیسوپړسوب لپاره موثر دی، بهرنی عامل دی لکه د لویو سوداګریزو شرکاو، د پېسو پړسوب په کچه کېتغیرات چې د هغه له ډلې څخه د پاکستان او ایران نومونه یادولی شو ځکه افغانستان د خپلې اړتیا زیاته برخه له دغو هېوادونو څخه پوره کوي او کورني بازارونه د دغو هېوادونو له وارداتي توکو څخه ډک دي

د کورنیو تولیداتو ټیټه کچه، راکړو ورکړو کې له امریکایي ډالرو څخه استفاده، په هېواد کې د منظم ټرانسپورټي سیستم نشتون، له ګاونډیو هېوادونو سره سوداګریزي او ترانزیتي ستونزې، بازار کې د بشپړ سیالۍ نشتون(انحصار)، اقتصادي او سیاسي ثبات نشتوالی او د راتلونکې په اړه اندیښنې او بی باوري هغه عوامل دي چې زمونږ هېواد کې د قیمتونو د بدلولونو او نوساناتو لامل ګرځي. له دې ستونزو سره سره، د افغانستان بانک د پېسو سیاست عمومي آمریت په دې واکمن دی چې په هیواد کی د پیسو د پړسوب کچه تر خپل واک لاندې ونیسي .چې له یو رقمي عدد څخه لوړ نشي.



## مهم ټکي

- د ۱۳۹۹لمريز ليږديز کال د کب په مياشت کې تولیز پرسوب لږ بدلون مونډلی دی. د مصرفي توکو قیمتونه د کلني محاسبې پربنسټ ۴٬۱۳سلنې تر ۴٬۴۲سلنې پورې زیاتوالی څرګندوي . دا زیاتوالی د غیري خوراکي توکو شاخص دقیمتونو د زیاتوالی له امله منځ ته را غلی دی.تمه کیږی د چې تولیز پرسوب د۲۰۲۱ کال وري په میاشت کې د کلني محاسبې پر بنسټ نږدې۳٬۸۲سلنې ته را ټیټ شي . د احصایي او معلوماتو اداری له خوا چې د کابلپه سطح د ارقام تر لاس راوړلو نه نه وروسته لیدل کیږي چې د عمومي پړسوب کچه تیر کال د وری میاشت نه له ۷٬۵۰ سلنه کې تر ۰٬۳۹- سلنې پوري کموالی کړي دی.
- د خوراکي توکي شاخص قیمت له ۵٬۳۲سلنې تر ۴٬۹۶سلنی پوري کموالی ښیي ، دا کموالی ډیر د( ، وچې او تازه میوې،سابه ، مصاله جات او غیر الکولی څښاک ) قیمتونو د کمښت له امله رامینځته شوي دي .
- او خوراکي توکو د پیسو پړسوب شاید د پام وړ کموالي ومومي اټکل کیږی چې دارقم د د۲۰۲۱ کال وری په میاشت کې ۳٬۷۹ سلنې ته کمښت وکړی. دارقم د تیر کال ورته میاشت کې ۱۶٬۵۶ سلنه کې سنجش شوي وو.د خوراکي توکو دپام وړ کموالي اصلي لامل هم د کویډ ۱۹ وایروس کمیدل دي چې د خوراکي توکو پړسوب بیرته د کمیدلو لامل ګرځیدلی دي .او
- په ورته مهال کې د غیري خوراکي توکو قیمت د روان لمریز لیږد کال د سلواغې له میاشتې څخه د کب میاشت پورې له ۲٬۹۵ سلنې تر ۳٬۸۸سلنه زیاتوالی څرګندوي .
- د غیري خوراکي توکو شاخص دکب په میاشت کې د زیاتوالي لامل (تنباکو، جامې ،استوګن ځای ، دکور سامانونه ،ترانسپورت،مخابرات،اطلاعات او معلومات ، رستورانت او هوتل) برخې دبیې زیاتوالی دي.چې د غیري خوراکي توکو شاخص یی تر اغیزې

  لاندې نیولی دی .
- د هستې( خالص) انفلاسیون (۳۰% Trimmed Mean ) هم د وریپه میاشت کې بدلون څرګندوي. خلاصه شوی اوسط یو مهم معیار دهستې( خالص)تورم ګڼل کېږي. چې ۳٬۷۸سلنې تر ۲٬۲۶ سلنېپورې کموالي مونډلی دی.
- په همدې توګه تولیز پرسوب د کابل ښار په کچه د کلني بدلون پر بنسټ له ۴٬۹۸تر ۰٬۳۹-پورې د وری په میاشت کې بدلون مونډلی. دی او دمیاشتیني بدلون پر اساس ۱٬۰۶ نه تر۱٬۵۳سلنې د وریمیاشت کې زیاتوالیکړی دی.
- د کابل په کچه د خوراکي توکو شاخص دکلنیمحاسبې پر بنسټ له ۳٬۹۶سلنې تر ۷٬۳۶- سلنې پورې کم شوی دی. او د غیر خوراکي توکو شاخص د کلني بدلون پر بنسټ د کابل ښار په کچه له ۵٬۶۶سلنې تر ۴٬۹۴سلنې پورې کموالی څرګندوي .

### 1- جدول : د پېسو پړسوب د هیواد په کچه

| توکي | کلنی بدلون | | | میاشتنی بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|
| | سلواغه ۱۳۹۹ | کب ۱۳۹۹ | وراندینه (وری) | سلواغه ۱۳۹۹ | کب ۱۳۹۹ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **تولیز پړسوب** | ۴,۱۳ | ۴,۴۲ | ۳,۸۲ | -۰,۵۲ | ۰,۴۸ |
| خوراکي او غیرې الکولي څښاک | ۵,۳۲ | ۴,۹۶ | ۳,۷۹ | -۰,۷۲ | ۰,۲۹ |
| غیري خوراکي توکي،تنباکواو چوپړتیاوی | ۲,۹۵ | ۳,۸۸ | ۳,۷۴ | -۰,۳۱ | ۰,۶۸ |
| تولیز شاخص د استوګن ځایونو ،غلو دانو،غوړیو او ترانسپورټ څخه پرته . | ۳,۱۴ | ۳,۰۵ | | -۰,۷۴ | ۰,۲۳ |
| پیسو پړسوب دخلاصه شوي اوسط(۳۰٪)(لنډیز Trimmed mean) | ۳,۶۱ | ۳,۷۸ | | | |
| **دکابل شاخص** | | | | | |
| تولیزپیسو پړسوب | ۳,۴۲ | ۴,۹۸ | | -۱,۵۶ | ۱,۰۶ |
| خوراکي توکیاو غیر الوکلي څښاک | ۱,۷۳ | ۳,۹۶ | | -۲,۴۱ | ۱,۲۸ |
| غیري خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوي | ۴,۵۶ | ۵,۶۶ | | -۱,۰۱ | ۰,۹۳ |

سرچینی : د احصایي او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

## د پیسو تولیز پړسوب دکلنی محاسبې پر بنسټ  کب میاشت کې بدلون ښکاره کوي.

د پیسو تولیز پړسوب  کچه د ۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال دکلنیبدلونونو پر بنسټ دکب په میاشت کې زیاتوالیکړی دی. دمصرفي توکو تولیز  پیسو پړسوب له ۴,۱۳سلنې ۴,۴۲سلنې پورې بدلونځرګندوي. دازیاتوالی د غیرخوراکي توکو دقیمتونو دزیاتوالی نه سرچینه اخیستې ده،  چې تولیز شاخص یې تر اغیزیلاندې نیولی دی.



او له بلې خوا، څرنګه چې دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ چې توپیرونه په لندمهاله توګه د څیړنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توګه بدلونونه څیړي د دې محاسبې پر اساس له ۰,۵۲-سلنې څخه تر ۰,۴۸سلنې پورې دکب په میاشت کې لوړ شوي دي.




### (۱) دخوراکي توکو ټیټ قیمتونو شاخص دکلني بدلون پر بنسټ د ښکارندوی دی.

د احصائې او معلو ماتو ملي اداري د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له ۵,۳۲سلنې نه ۴,۹۶سلنې پورې کموالی څرګندوي . د دې کموالی اصلي لامل د (وچې او تازه میوې،سابه ، مصاله جات او غیر الکولی څښاک ) دقیمتونو کموالیدی.



| 1- جدول :خوراکي توکي د پېسو پړسوب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | | سلواغه ۱۳۹۹ | کب ۱۳۹۹ | سلواغه۱۳۹۹ | کب۱۳۹۹ |
| خوراکي توکو پړسوب او غیرې الکولي څښاک | **۴۷،۸** | ۵،۳۲ | ۴،۹٦ | -۰،۷۲ | ۰،۲۹ |
| ډوډۍ اوړه غلې داني | **۱۴،٦** | ۸،۹۲ | ۸،۹٦ | -۰،۱۸ | ۰،۳۰ |
| غوښه | **۷،۵** | ۸،۸٦ | ۹،۱۷ | -۰،۵٦ | ۰،۳۲ |
| لبنیات(شیدې،پنیر،هګۍ) | **۴،۷** | ۳،۳۳ | ۳،۵۱ | -۲،۲٦ | -۰،۴۸ |
| غوړي | **۴،٦** | ١٦،١٦ | ۱۸،۷۸ | ۰،۲۱ | ۱،۷۹ |
| وچه او تازه میوه | **۵،۰** | ۱،٦۵ | -۰،۲۷ | -۱،۰۳ | ۳،۱۸ |
| سابه | **٦،۰** | -٦،۷۸ | -۹،٦۹ | -۱،۹۱ | -۲،۳۷ |
| خواږه | **۲،۷** | ٦،۲۵ | ۷،۰۸ | -۰،۱۲ | ۰،۱۲ |
| مصاله | **۱،۳** | -٦،۸۵ | -۹،۱۰ | -۱،۱۸ | -۱،۱۵ |
| غیرې الکولي څښاک | **۱،۴** | ۲،۱۷ | ۲،۱۴ | -۰،۴۹ | ۰،۰۸ |

سرچینه :د احصائی او معلوماتو ملی اداره/ دافغانستان بانک

## د خوراکي توکي شاخص د میاشتیني محاسبې پر بنسټ کب په میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي

د خوراکي توکو  شاخص په برخه کې دمیاشتیني بدلون معیار پربنسټ دکب  میاشت کې ۰٫۲۹ سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې ۰٫۷۲-سلنه سنجش شوی وو.  دازیاتوالی دخوراکي تو کو اجزاوو لکه (غلې دانې ،غوښه ،لبنیات،خواږه،  ، مصاله جات  ) دقیمتونو له امله را منځ ته شوی دی.




**دکلني محاسبې پر بنسټ د  کب په میاشت کې د غلې دانې قیمتونو  لږزیاتوالي کړی دی**

**الف - ډوډۍ، اوړه او غلې  دانې** چې  ټولیز پړسوب  کې  ۱۴.٦  سلنه  ونډه لري ،د کلني محا سبې پر بنسټ له ۸٫۹۲ سلنې نه  تر ۸٫۹٦ سلنې پورې دکب په میاشت کې زیات شوی دی. اوهمدا راز د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې برخې شاخص ۰٫۱۸-سلنه سلواغې  په میاشت کې تر۰٫۳۰ سـلنې پورې د څیړنې په دوره کې زیاتوالي موندلی دی. ددې شـاخص د نرخ زیاتوالي د نړیوال بازار نرخونو سره تړاو لري ،په نړیوال بازار کې د غنمو او اوړو او وریجو نرخونه د تیر کال د همدې میا شت په پرتله لوړ  شوي،د غنمو اوړو او وریجو نرخونه په ترتیب ۲۸  سلنه او ٦٫۲۸  سلنه کې زیاتوالي موندلي او ددې برخې د شاخص دبیې زیاتوالي لامل ګرځیدلي دی.




**ب - غوښــه** په تولیز شــاخص کې ۷٫۵ســلنه ونډه لري،د کلني محاســبې پر بنســټ ۸٫۸٦ ســلنې تر ۹٫۱۷ســلنې پورې د کب په میاشــت کې زیاتوالی موندلی دی. او همدا راز دا بدلون د میا شتیني محا سبې پر بنسټ چې(په لند مهاله توگه)څېړل کیږی له -۰٫٥٦ سلنه تر ۰٫۳۲ سلنې پورې زیات شوی .

لکه څرنگه چې وینو زمونږ هیواد خپل د ضرورت وړ یو ه برخه غوښــه له گاونډیو هیوادونو لکه پاکســتان او ایران څخه واردوی . په پاکســتان کې دغوښــې په بیه کې ۴۰ ســلنه زیاتوالي راغلې ، او همدا راز په ایران هیواد کې هم د چرگانو دغوښــې بیه د څېړنې په موده کې زیاتوالي موندلې دی.او دا ددې لامل گرځیدلي دی چې په هیواد کې د غوښې بیه لوړ والی ومومې .



**پ** - د  کلني محاسبې پر بنسټ **دلبنیاتو :(شیدي،پنیراو دچرګانو دهګی)** قیمت  چې دمصرفي توکو ټولیز شاخص ۴٫۷ سلنه جوړوي د کلني محاسبې پر بنسټ له۳٫۳۳ سلنې تر ۳٫۵۱سلنې پورې د څېړنې په  موده کې  زیاتوالی موندلی دی .

او همدا راز  د میاشتیني محاسبې پر بنسټ  هم د دې برخې شاخص له ۲٫۲۶- سلنې تر ۰٫۴۸- سلنې پورې زیاتوالی کړی دی .ددې برخې شاخص زیاتوالي لامل ، څرنګه چې  اکثرآ وچې او مایع شیدې واردات له پاکستان هیواد څخه کیږي او پاکستان هیواد کې دمایع  شیدو نرخ دڅېړنې په موده کې ۱۴٫۷ سلنه کې زیاتوالي  موندلی  او دا شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دی.




**ت** - د خوراکي توکو یوه مهمه  برخه هم د**غوړیو** شاخص دی . چې په ټولیز شاخص کې ۴٫۶سلنه ونډه لري . د دې  برخې شاخص د کلني محاسبې پر بنسټ  د سلواغې میاشت نه له ۱۶٫۱۶سلنه  کېتر ۱۸٫۷۸ سلنې پورې د کب په  میاشت کې زیاتشوی دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبېپر بنسټ د دې شاخص قیمت  له ۰٫۲۱سلنې تر ۱٫۷۹سلنې  پورې زیاتوالی موندلی دی. د ذکر شوي شاخص په نرخ کې زیاتوالی دنړیوالونرخونو سره تړاو لری ،په نړیوال بازار کې دلمرګلی  غوړی،  د زیتون غوړي او دجوارو غوړي بیه په ترتیب سره ۲۲ سلنه ۵۱ سلنه او ۴۳ سلنه کې  لوړ والي  موندلي .

**ث -  د وچې او تازه میوې**شاخص چې په ټولیز شاخص کې ۵٫۰سلنه ونډه لري.دکلنی محاسبې پر بنسټ ۰٫۲۷- سلنې ته رسیدلي دي،حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې ۱٫۶۵ سلنه سنجش شوی وو .لاکن  د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې برخې دشاخص قیمت له ۱٫۰۳-سلنې نه دسلواغې په میاشت کې تر۳٫۱۸سلنې  پورې د کب میاشت کې  زیاتوالیموندلی دی. ،ددې شاخص بیې  کموالی  اصلی لاملونه  په هیواد کې دسیتروس د کورنې میوې څمکنې توتانو  او د غوزانو  په حاصلاتو  کی زیاتوالي  او همدا راز  لکه څرنګه چې دافغانستان د صادراتو زیاته برخه وچې او تازه میوې  جوړوي ، ۲۰ سلنه کموالي زمونږ په صادراتو کې هم یو له هغه عواملو څخه دې چی ددې شاخص بیه یې تر اغیزې لاندی نیولي دی.




**ج - دسابو** قیمت هم د کب په میاشت کې کم شویدی. دا برخه په ټولیز شاخص کې۶,۰سلنه (ونډه) لري.
او کولای شي هر بدلون په دې برخه کې د پیسو ټولیز پړسوب تر اغیزې لاندې ونیسی .ددې برخې قیمت د کلنی‌محاسبې پر بنسټ له ۶,۷۸-سلنېتر ۹,۶۹-سلنې پورې د کبپه میاشت کې کموالی موندلی دی.او همدا راز دمیاشتنې محاسبې پر بنسټ ددې شاخص قیمت له ۱,۹۱-سلنې نه تر۲,۳۷- سلنې پورې کمه شوی ده.

دهیواد په کچه د سبزیجاتو په حاصلاتو کې ۱۵-۲۰ سلنه زیاتوالي په ځانګړې توګه د سویا بین ، بینډې اولدلمه مرچ حاصلاتو کې زیاتوالي ښکاره کوی او په کورني بازار کې د زیاتې ورکړې یا عرضې لامل ګرځیدلي او ددې برخې شاخص بیه یې کمه کړې دي .

**ح - خواړه** چې په عمومي شاخص کې ۲,۷ سلنه ونډه لري ،له ۶,۲۵ سلنېتر ۷,۰۸سلنې پورې د کب په میاشت کې زیاتوالی کړی دی. اوهمدا راز د میاشتینې محاسبې پر اساس ددې شاخص قیمت له ۰,۱۲- سلنې تر ۰,۱۲ سلنې پورې زیاتوالي موندلی دی.څرنګه چې په نړیوال بازار کې د بورې نرخ ۳۰ سلنه کې زیاتوالي موندلی دې او داددې لامل ګرځیدلي چې د بورې بیه په هیواد کې دننه هم زیاتوالی ومومي .



**خ -** - د څیړنې په دوره کې د **مصاله جاتو** قیمت هم د کلني محاسبې پر بنسټ کموالی ښکاره کوي،چې د کلني محاسبې پر بنسټ له ٦,٨٥- سلنې تر ٩,١٠- سلنې پورې کم شوی دی.او همدا راز، د میاشتیني محاسبې پر اساس له ١,١٨- سلنه کې تر١,١٥- سلنې پورې زیاتوالي کړی دی.

دبوستان سبز په نامه دکرهنیز شرکت دفعالیت پیلیدل چې په هر ساعت کې ٢٠ ټنو رب تولید ظرفیت لری او همدا راز په لغمان ولایت د مالګې شرکت دفعالیت پیل چې په یو ساعت کې د یو ټن مالګه د تولید ظرفیت لري ددې شاخص نرخ کی دکموالی لامل ګرځیدلی دي

**د - غیري الکولی مشروبات** قیمت دکلني محاسبې پر اساس له ٢,١٧سلنې تر ٢,١٤سلنې پورې کموالی کړی دی. همدا راز د میاشتینیمحاسبې پر اساس ،د دې برخې شاخص له ٠,٤٩- سلنې تر ٠,٠٨سلنې پورې دکب په میاشت کې زیاتوالي په ګوته کوي.




**٣-جدول:غیري خوراکي توکو پړسوب**

| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتیني بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | سلواغه١٣٩٩ | کب ١٣٩٩ | سلواغه١٣٩٩ | کب ١٣٩٩ |
| غیري خوراکي توکي تنباکو او چوپړتیاوې | ٥٢,٢ | ٢,٩٥ | ٣,٨٨ | -٠,٣١ | ٠,٦٨ |
| سګرت او تنباکو | ٠,٣ | ٥,٣٥ | ٥,٥٠ | ١,٠٠ | ٠,٩١ |
| جامې | ٤,٦ | ٥,٥١ | ٦,١٦ | -١,١٨ | -٠,٠٨ |
| استوګن ځای | ١٩,١ | ٢,١٦ | ٢,٥١ | -٠,٨١ | -٠,٠٨ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دکور سامانونه | **۱۱,۹** | ۵,۴۰ | ٦,٦٢ | -۰,۱۸ | ۱,۴۳ |
| روغتيا | **٦,٢** | ۵,۷۳ | ۵,۳۵ | ۰,۱۵ | ۰,۱۸ |
| ترانسپورت | **۴,۳** | -۸,۳۴ | -۲,۴۲ | ۱,۸٦ | ۴,۷۸ |
| مخابرات | **۱,۷** | -۰,٦۸ | ۰,۷٦ | ۰,۲۱ | ۰,۴۳ |
| اطلاعات و فرهنگ | **۱,۱** | ۰,۵۸ | ۱,۹۰ | -۰,۱۸ | ۰,۰۲ |
| ښوونه او روزنه | **۰,۴** | ۵,۰۸ | ۵,۰۲ | -۰,۳۵ | ۰,۰۵ |
| هوټل او رستورانت | **۱,۱** | -۰,۳۹ | ۰,۳۰ | -۰,۴۰ | ۰,۲۴ |
| متفرقه | **۱,۴** | ۸,۳۸ | ٦,۳۵ | -۰,۴۹ | -۰,۵۸ |

سرچینه :د احصائی او معلوماتو ملی اداره/ دافغانستان بانک

## ( ۲) غېرې خوراکي توکي کلني-پرسوب دکب په میاشت کې زیاتوالی کړی دی

**غېرې خوراکي**توکو شاخص چې د ټولیز شاخص ۵۲,۲ سلنه جوړوید۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال د کب په میاشت کې زیاتوالی موندلی دی او ۳,۸۸سلنېته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې۲,۹۵سلنه سنجش شوی وو. او د ا زیاتوالی اصلی لامل د تنباکو،جامې کور،اوبو ،بریښنااو ګاز ،د کور سامانونه ترانسپورت ، مخابرات ،اطلاعات او معلومات او رستورانت او هوټل د شاخصونو نه دبیې زیاتیدل ګڼل کېږي.

.



دمیاشتیني  محاسبې پر بنسټ ددغې برخې  شاخص له ۰٫۳۱-سلنه  دسلواغې په میاشت کې تر ۰٫٦۸سلنې  پورې دکب میاشت کې زیاتوالي کړی دی .




**الف - تنباکو**  چې په عمومي کڅوړه کې ۰٫۳ سلنه ونډه لری دکلني محاسبې پر اساس  له  ۵٫۳۵سلنې تر ۵٫۵۰سلنې پورې زیاتوالی  کړی دی. همدا راز د میاشتینیمحاسبې پر اساس ،د دې برخې شاخص له ۱٫۰۰سلنې  تر ۰٫۹۱سلنې پورې دکب په  میاشت کې کموالي په گوته کوي په نړیوال بازار کې د۲۰۲۰ کال د سپتمبر  میاشت راهیسې د تنباکو محصول باندې د لگول شوې تکس سربیره ۱۲٫۵ سلنه کې زیاتوالي  دی  ، چې په پایله کې دسگرټ بیه په نړیوال بازار کې زیات شې  او ددې لامل گرځیدلي دی چې زمونږ. په هیواد کې هم دغه شاخص تر اغیزې لاندې ونیسې




.

**ب - د جامو** دشاخص قیمت چې د تولیز شاخص کې ۴,٦ سلنه ونډه لري له ۵,۵۱سلنه تر ٦,١٦ سلنې پورې د۱۳۹۹ کال دکب په میاشت کې زیاتوالي کړي دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ هم ددې برخې قیمت له ۱,۱۸-سلنې تر ۰,۰۸-سلنې پورې دکب په میاشت کېزیاتوالیموندلی .څرنگه چې افغانستان اکثره له بهرنیو هیوادونو څخه په ځانګړې توګه له ترکیه ، چین، او پاکستان نه جامې او بوټان واردوي ، ددې شاخص بیه د کب په میاشت کې په یاد شي هیوادونو کې په ترتیب سره په سلو کې ۷,۴۳ ،۰,۱، او ۱۰,۷۲ سلنه لوړ شوې دي . همدا رنګه د نوي کال لپاره د چمتووالي له امله په هیواد کې دننه د جامو او بوټانو پیرود غوښتنه لوړه شوې چې د خیرنې په موده کې ددې شاخص نرخ یې لوړ کړی .




**پ - کور،اوبو ،بریښنااو ګاز** ۱۹,۱ سلنه په تولیز شاخص کې ونډه لري ، دکلنې محاسبې پر بنسټ له ۲,۱٦سلنېتر ۲,۵۱ سلنې پورې د ۱۳۹۹کال دکب پهمیاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي .لکه څرنګه چې ګورو د دې برخې ونډه په تولیز شاخص کې زیاته ده له همدې کبله دی چې هر بدلون په دې برخه کې په تولیز شاخص باندې ډیره اغیزه لري،له بلې خوا د میاشتینې محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت د کب پهمیاشت کې تر۰,۰۸-سلنې پورې رسیدلی ده. حال دا چې ددې شاخص قیمت په تېره میاشت کې ۰,۸۱- سلنه سنجش شوی وه.ددې شاخص دنرخ زیاتوالی اصلی برخه ،په نړیوال بازار کې د ګاز او ساختماني موادو نرخ د تیر کال د ورته میاشت په پرتله لوړ شوی . په نړیوال کې د سړې هوا له امله دډېرو سکرو او مایع ګاز مصرف لپاره دغوښتنې زیاتوالی اوورسره هم په هیواد کې دننه د اسلام قعله او د فراه ولایت ګمرکاتو کې د تیلو ډیپو ګانو کې اور لګیدوله امله د د ګاز او تیلو نرخ جګوالی وموند او همدا راز دموسومې اغیزی له امله ساختماني توکو نرخ په نړیوال بازار کې ۲,۴ سلنه کې لوړ والی دي چې ددې شاخص بیه یې تر اغیزې لاندې و نیوو .




ت - **دکور سامانونه** چې په ټولیز شاخص کې ونډه لري د سلواغې په میاشت کې له ۵,۴۰سلنې تر۶,۶۲سلنې پورې دکبپه میاشت کی زیاتوالی موندلی دی او همدا راز د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له ۰۱۸-سلنه تر ۱,۴۳ سلنې پورې دکب په میاشت کې زیاتشوی.

څرنګه چې افغانستان عموماً له بهرنیو هیوادونو لکه ایران او پاکستان څخه کورنی توکو واردات کوي نو ۱۳۹۹ کال په جریان کې د ایرانې غالیو صادرات ۵ سلنه کی کموالي راغلي دي. په ورته مهال د پاکستان او ایران په هیوادونو کې د کورنیو توکو په بیه کې په ترتیب سره ۸,۸۵ سلنه او ٦,٦ سلنه کې بیه یې لوړ والي کړی دي.او دا شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دي.

ث - **روغتیا**شاخص چې په ټولیز پرسوب کې ٦,٢ سلنه ونډه لري، دکلني محاسبې پر بنسټ د روان کال دکب په میاشت کې تر ۵,۳۵سلنې پورې کم شوی ده، حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې۵,۷۳سلنه ثبت شوې وه.له بلېخوا د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له ۰,۱۵ سلنې تر ۰,۱۸سلنې پورې زیاتوالی ښکاره کوي. افغانستان خپل داړتیا وړ ۹۰ سلنه درمل له بهرنیو هیوادونو څخه واردوی ،او ددې درملو ۷۰ سلنه په غیرقانونی او د مالیاتو پرته هیواد ته واردوي،چې ددې شاخص نرخ کمولو لامل شوی.




**ج - ټرانسپورت** چې د ټولیز شاخص ۴,۳۲ سلنه جوړوي .دکلني محاسبې پر بنسټ د روان کال دکبپه میاشت کې له ۸,۳۴- سلنې تر ۲,۴۲- سلنې پورې زیاتوالی موندلی دی.

او همدا راز .د میاشتیني محاسبې پر بسټ ،دا برخه د غیرې خوراکي توکو شاخص له ۱,۸۶ سلنې تر۴,۷۸سلنې پورې زیاتوالی کړی دی.

ددې شاخص دنرخ زیاتوالی دنړیوال بازار له نرخونو سره تړاو لری،په نړیوال بازار کې د ۲۰۲۰ کال د دویم ربعي راهیسې د خامو تیلو بیه لوړه شوې ،داوپک غړې له خوا دخام تیلو د تولیدکمیدلو په پایله کې ۲۰۲۱ کال د کب میاشت کې خام تیل یوبشکه په اوسط توګه ۶۵,۴۱ دالر ته رسیدلی دي . دا دیو کال دمخه د میاشتیني اوسط نرخ څخه نږدی دوه چنده دي او همدا رنګه دډیزل او پطرولو نرخ د ۲۰۲۱ کال کب میاشت په لړ کې په نړیوال بارار کې هم لوړوالی موندلای دی .



**ح - دمخابراتو**شاخص په تولیز شاخص کې ۱٫۷ سلنه ونډه لري د کلنیمحاسبې پر اساس د مخابراتو قیمت تر۰٫۷٦ سلنې  پورې بدلون ښکاره کوي . حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې  ۰٫٦۸- سلنه سنجش شوی وو. او همدا راز د میاشتینې محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت له ۰٫۲۱سلنې  تر ۰٫۴۳سلنې پورې زیاتوالی کړی دی. په نړیوال بازارکې د تیلیوفونو بیه  د اومه موادو کموالی په خاطر او  دی توکې ته دغوښتنې زیاتوالی ددې لامل ګرځیدلې دی چې دیاد شوې شاخص  دنرخونو جګوالي لامل وګرځې او ددې شاخص بیه  تر اغیزې لاندې ونیسې

**خ -** او همدا رنګه **اطلاعات او فرهنګ** چې ۱٫۱ سلنه په تولیز شاخص کې ونډه لري ،ددې ښکارندوی دې چې په تولیز شاخص باندې ډېر لږ اغیزه لرې.او د دې شاخص  قیمت  د کلنې محاسبې پر اساس له۰٫۵۸ سلنې نه  تر ۱٫۹۰ سلنېپورې زیاتوالی  موندلی  دی، او د میاشتینې محاسبې پر بنسټ له ۰٫۱۸- سلنې ۰٫۰۲ سلنې پورې زیاتوالی  ښکاره کوي.

د ښوونځیو  او پوهنتونونو په پرانستلو سره د د تحریر لپاره توکې لکه د یاداشت کتابچه ، سپینې ورقې  او همداراز په دې برخه کې نورې دارتیاوړ توکې بیه لوړه شې او ددې شاخص  بیه تر اغیزې لاندې ونیسې  .




**د - ښووني او روزني** شاخص د کلنې محاسبې پر بنسټ چې له ۵٫۴۸سلنهد سلواغه  په میاشت کې تر ۵٫۰۲سلنه پورې د ځیړنې په دوره کې دبدلون کړی دی. او  همدا راز دمیاشتینې محاسبې پراساس دا شاخص له۰٫۳۵-سلنې   تر ۰٫۰۵سلنې پورې زیاتوالي  ځرګندوي . د ۱۴۰۰ نوی تعلیمي کال پیل  په موخه ژمني کورسونو ته د غوښتنې کموالی ددې لامل ګرځیدلي چې ددې برخې دشاخص بیه کمه شې .

**ذ - رستورانټ او هوټل** شاخص بیه  له ۰٫۳۹-سلنې تر۰٫۳۰ سلنې پورې د روان کال د  کب  میاشت  کې   زیاتوالي کړی دی. همدا راز دمیاشتینې سنجش پر بنسټ دا شاخص د غېرې خوراکي توکو له برخې نه  له ۰٫۴۰- سلنه تر۰٫۲۴ سلنې پورې د ځیړنې په دوره کې  ډېرښت کړی دی.ددې شاخص د بیې زیاتوالی اصلی دلیل دځیړنې په موده کې د خواړو ،غوښې  او غوړیو په بیه کې زیاتوالي ګڼل کیږې .




ر - او همدا راز د **متفرقه** برخې شاخص د روان کال د سلواغې په میاشت کې له ۸,۳۸سلنې تر۶,۳۵سلنې پورې د کبپه میاشت کې کموالی کړی دی. او همدا راز د میاشتینې سنجش پر بنسټ له ۰,۴۹-سلنې تر ۰,۵۸- سلنې پورې کموالی کړی دی. ددې شاخص دبیې کمیدو اصلي مرسته کونکې د لمړۍ ځل لپاره د مینځلو توکې تولید فابریکه بامیان په ولایت کې او همدا راز د په کندهار کې کاغذی دستمالونونو فابریکه دی چې په ورځ کې ۱۳۰۰۰ ټن کاغذ د تولید ظرفیت لري ۲۰۲۱ کال د کب په میاشت کې خپل فعالیت ته وده ورکړی دي او په کورنې بازار کې زیاتې ورکړې لامل شوي دي .

## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)

په هېواد کې د هستې انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا د قیمتونو ټولیزې کچې باندې د کنترول ښکارندویې کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول نه هم بهر دي، په شاخص کې په پام کې نه نیول کېږي د انفلاسیون دکچې زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیرې عادي پیښو له امله اغیزمن کیږي. استفاده کیږي. په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوې چې په غېر عادي توګه قیمت یې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کیږي تر څو پوړېپه ټولیز شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي .

د هستې انفلاسیون د معلوملو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%۳۰ ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې تر لرې کولو وروسته محاسبه کیږې . د دې معیار په اساس پیسو پړسوب د ۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال دسلواغې پهمیاشت کې له ۳,۶۱سلنې تر ۳,۷۸سلنې پوربدکب په میاشت کې زیاتشوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له**لګښتې توکو شاخص بې د ډوډۍ ،غوړي او ترانسپورت** څخه . چې پیسو پړسوب د دې معیار په اساس ۳,۰۵سلنې ته د کب په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې۳,۱۴سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتینې محاسبې پر بسټ له ۰,۷۴-سلنې تر۰,۲۳سلنې پورې زیاتوالې ښکاره کوي.


دهستی انفلاسیون په غیر د ډوډی ،غله ،غوړی او ترانسپورت او
خلاصه شوی اوسط
۱۰.۰
۸.۰
٦.۰
٤.۰
۲.۰
.۰
کب ۹۸
غویی ۹۹
چنگاښ ۹۹
وږی ۹۹
لړم ۹۹
مرغومی ۹۹
کب ۹۹
د هستی انفلاسیون په غیر د ډوډی غله غوړی او ترانسپورت
Trimmed Mean) %30( خلاصه شوی اوسط